

ملګري ملتونه په ټولو خواوو غږ کوي چې روغتيايي مرکزونو ته درناوی وکړي

کابل، د فبروري ۲۳مه ۲۰۱۶ ـ ملګري ملتونو په افغانستان کې د جګړې په ټولوغاړو غږ کوي، چې په جګړې او بريدونو کې د روغتيايي مرکزونو، د روغتيايي کارکونکو او ناروغانو ساتنې او خوندیتوب ته درناوی وکړي او د روغتيايي مرکزونو د ساتنې د وضيعت په اړه ډاډ رامنځ ته کړي.

په تيره اونۍ کې په دوو روغتيايي مرکزونو بريدونه وشول، چې مرګ ژوبله يې واړوله.

په افغانستان کې د ملګروملتونو د ځانګړي استازي مرستيال او د بشري مرستو همغږۍ کونکی مارک باوډن وايي: "روغتيايي مرکزونه ، روغتيايي کارکونکي او هغه کسان، چې له ناروغيو او يا جګړيزوپيښو اړوند ټپونو له کبله د درملنې په لټه کې دي بايد په هيڅ ډول له خطرسره مخامخ نشي" هغه وويل: "هغه کار، چې د بشري او روغتيايي کارکونکو لخوا ترسره کيږي بايد محدود نه وي او د جګړې ټولې غاړې بايد دغه ځايونه او کسان له خطرسره مخامخ نکړي."

د فبروری په ۲۲مه نيټه د پروان په سياګرد ولسوالۍ کې يوه ځانمرګي بريد کونکي پرافغان امنيتي ځواکونو برید وکړاو خپل چاوديدونکي توکي يې د ولسوالۍ روغتيايي مرکزته نژدې وچوول، چې په نتيجه کې يې اوه تنه ملکيان ووژل شول او د درېو ماشومانو په ګډون اوه نور يې ټپيان کړل.

د فبروریٔ په ۱۸ مه نيټه د افغانستان د کورنيو چارو وزارت ځانګړو ځواکونو او نړيوالو ځواکونو د وردګو ولايت د دايميرداد ولسوالۍ د تنګي سيدانو په سيمه کې ګډ عمليات ترسره کړل او په افغانستان کې د سويډن کميټې په مرستنه چليدونکي حکومتي کلنيک ته وردننه شول. وروسته له هغه، چې د مرکزمسوول او نور روغتيايي کارکونکي يې په يوه خونه کې دننه کړل، دوه ناروغان او د هغوی لېدنې ته يو راغلی ۱۵ کلن هلک يې يوه نژدې دوکان ته يووړل او هلته يې ووژل.

په وسله والو شخړو کې دملکي وګړو د خوندیتوب په اړه د يوناما او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د دفتر د ۲۰۱۵ کال رپوټ، چې د همدې مياشتې په لومړيو کې خپورشو د جګړو اړوندو پيښو کې د روغتونو، کلينيکونو او روغتيايي کارکونکو په قصدي په نښه کولو کې زياتوالی ښوول شويدی.

ملګري ملتونه دا روښانه کوي، چې قصدي ډول په روغتونونو، ښوونيزومرکزونو او يا دهغوی په کارکونکو او د هغوی په ګاونډ کې د بريدونو ترسره کول، چې د روانې جګړې د يوې برخې په توګه ترسره کيږي، دا له نړيوال بشري قانون څخه سرغړونه او تيری دی او په عين حال کې د افغانستان د اساسي قانون څخه سرغړونه ده.

د جګړې له ټولو غاړو غوښتنه کيږي، چې د بريدونو پرمهال دنړيوال بشري قانون ټولې مقررې ، اصول ، مشخصات او لازم احتياط په پام کې ونيسي او ملکي وګړو او هغو کسانو ته زيان ونه رسوي ، چې په جګړه کې ښکيل نه دي.

ملګري ملتونه په ټولو غاړو ټينګار کوي، چې د روغتونو له په نښه کولو ډډه وکړي او هغه ټول ممکنه احتياطي تدابير په پام کې ونيسي، چې د ناروغانواو روغتيايي کارکونکو د تلفاتو مخه نيسي.

***